WNJS ساداتِ، سیدمحمد صادق. (۱۴۰۵). وردیکا د پوهنتون علمي خېړنيز ژورنال، ۱(۱): ۱۰۷-۱۲۰

مروري

آزاده لاسرسی

# په افغانستان کې د سرطان د ٢٦مې کودتا د بهرنيو عواملو په اړه د تاريخي رواياتو تحليل

څېړنيار سيدمحمدصادق سادات[1*]

۱. د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی

*د مسئول ليکوال برېښناليک: sayedsadiqsadats@gmail.com، د اړيکې شمېره: ۰۰۹۳۷۸۲۴۰۷۹۷۳+

**د مقالې تاريخچه:**

د مقالې ترلاسه کولو نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۵

د مقالې منلو نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲۸

د مقالې خپرولو نېټه: ۱۴۰۵/۲/۳۰

**ددې مقالې استناد:**

سادات، سید محمد صادق.(۱۴۰۵). په افغانستان کې د سرطان د ٢٦مې کودتا د بهرنيو عواملو په اړه د تاريخي رواياتو تحليل. وردیکا علمي څېړنيزه د پوهنتون علومو ژورنال، ۱ (۱):۱۰۷-۱۲۰

دغه ژورنال د وردگ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعاليت کوي.

CC BY

وردگ پوهنتون علمي څېړنيز نشرات (۱۴۰۵)

زمونږ سره اړيکې: ۰۹۴۷۴۵۶۰۶۳۱۷+

**ايميل:** rjd@wu.edu.af

**آدرس:** سيدآباد ولسوالی، ټوپ دبنته ميدان وردگ ولايت-افغانستان

**لنډيز**

د سرطان د ٢٦مې نېټې کودتا د افغانستان د معاصر تاريخ له مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، ياده کودتا د محمد داود خان په مشرۍ تر سره شوه، خو دې کودتا د ګنو کورنيو لاملونو تر څنګ يو شمېر بهرني لاملونه له ځان سره درلودل چې په اړه يې کورنيو او بهرنيو ليکوالانو او څېړونکو بېلابېل تاريخي روايتونه نقل کړي دي. د يادو تاريخي رواياتو ترمنځ واضح توپير ليدل کېږي له همدې امله اړتيا ليدل کېده چې ياده موضوع د يو تاکلي سرليک لاندې وڅېړل شي. په دې څېړنه کې د سرطان د کودتا د بهرنيو لاملونو په باب د تاريخي رواياتو تحليل په بې پرې توګه څېړل شوی او د روايتونو تر منځ د نظر د يووالي او اختلاف ټکي روښانه شوي دي. دغه راز په دې څېړنه کې د يو شمېر ځانګړو سرليکونو په واسطه ياده موضوع څېړل شوې ده او دا موضوع په سريزې، د موضوع موخه، مبرميت، پخوانيو آثارو ته کتنه، د سمې او نړۍ د حالاتو بدلون، په کودتا کې د شوروي هېواد موخې، په کودتا کې د شوروي هېواد د مداخلې د رد، د ناپيلتوب غورځنګ، مناقشه، پايله، وړانديزونو او ماخذونو سره راټوله شوې ده.

**کليدي کلمې:** کودتا، لامولونه، رقابتونه، بدلونه

مروري

آزاده لاسرسی

# Foreign Factors in the July 17 Coup d'Etat in Afghanistan: A Historical Narrative Analysis

Junior Assistant Professor Sayyed Mohammad Sadeq Sadat*1
1. Academic Member, Afghanistan Sciences Academy
*Corresponding author Email: sayedsadiqsadats@gmail.com,Tel: +93782407973

**Article History:**
Received: 23. 02.2026
Accepted: 29. 03.2026
Online First: 20. 05.2026

**Citation:**
Sadat, M. (2026). A Foreign Factors in the July 17 Coup d'Etat in Afghanistan: A Historical Narrative Analysis . *Wardika J of Soc Sci* 2026;1(1):107-120

Email: rjd@wu.edu.af
This is an open access article under the Higher Education license

CC BY

**Copyright**:© 2026 Published by Wardak Universty.

## Abstract

The coup d'État of the 17th of July is regarded as one of the most significant events in Afghanistan's contemporary history. Although this coup d'État was carried out under the leadership of Mohammad Daoud Khan, it was accompanied—alongside numerous domestic causes—by a range of foreign factors. Afghan and foreign authors and researchers have presented diverse historical narratives regarding these foreign factors. Clear differences can be observed among these narratives; therefore, it became necessary to examine the subject under a defined and systematic framework.This study provides an impartial analysis of historical narratives concerning the foreign causes of the July 17th coup d'État and clarifies points of convergence and divergence among the differing accounts. The topic is examined through several specific headings. Accordingly, the study is structured into an introduction, the objectives of the research, its significance and urgency, a review of previous works, changes in regional and global conditions, the objectives of the Soviet Union in the coup, the rejection of claims regarding Soviet Union intervention in the coup d'État, the Non-Aligned Movement, discussion, conclusions, recommendations, and references.

**Keywords**: coup d'État, causes, rivalries, transformations

**سریزه**

د افغانستان معاصر تاریخ د ډېرو لوړو ژورو نه ډک دی او په دې تاریخي بهیر کې وخت ناوخت یو شمېر تاریخي پېښې رامنځ ته شوي دي چې له امله يې د هېواد په ټولو برخو باندې اغېز ښیندلی دی، یو له دغو پېښو نه هم د ۱۳۵۲ل. کال د چنګاښ د ۲۶مې نېټې کودتا ده کوم چې د محمد داود خان په مشرۍ رامنځ ته شوه او نوموړی په دې وتوانېد چې د هېواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره جمهوري نظام رامنځ ته کړي او د محمد ظاهر شاه په مشرۍ شاهي رژیم چې شاوخوا ۴۰ کاله یې دوام درلود د پای ټکی کېږدي. دا چې دا کودتا څرنګه رامنځ ته شوه او کوم لاملونه یې تر شا موجود ول یو اوږد بحث دی، خو د دې کودتا بهرني لاملونه یوه مهمه موضوع ده، له همدې امله د دې حاضرې څېړنې لپاره غوره شوې ده. دا چې څېړونکي د یادې کودتا د بهرنیو لاملونو په باب کوم ډول نظر لري او د یادو نظریاتو ترمنځ توپیر موجودی او یا هم د دې موضوع په باب د څېړونکو تر منځ د نظر یووالی موجود دی، د دې څېړنې اساسي برخه تشکیلوي او په دې اړه به په بې پرې ډول څېړنه تر سره شي. دغه راز د څېړنې په پایله کې به روښانه شي چې د محمد داود خان په مشرۍ د چنګاښ د ۲۶مې کودتا کوم بهرني لاملونه درلودل او په دې اړه کوم تاریخي روایات موجود دي. ددې تر څنګ روښانه به شي چې په یاده تاریخي پېښه کې کوم بهرنی هېواد او استخباراتي شبکې رول درلود او څه ډول یې وکولای شول چې په هېواد کې مو یو بنسټیز بدلون ته زمینه برابره کړه. د دې څېړنې اساسي موخه دا ده تر څو د ۱۳۵۲ل. کال د سرطان د ۲۶مې نېټې د کودتا په اړه د بېلابېلو سرچینو او روایتونو په پرتله ایيزه توګه څېړنه او تحلیل وشي. دغه راز په دې څېړنه کې به هڅه وشي چې د کودتا په اړه تاریخي روایتونو د تاریخي نقد او میتودلوژۍ سره سم و ارزول شي او د یادې پېښې اصلي انځور د ترسیم لپاره او د موثقو او لومړنیو منابعو په مرسته یو نسبي او واقع بینانه تحلیل وړاندې شي. دا څېړنه نه یوازې دا چې د یوه تاریخي حقیقت د لاښه درک هڅه ده، بلکې دا هم څرګندوي چې تاریخ څرنګه د زمان، روایت، قدرت او حافظې ترمنځ په تعامل کې شکل مومي. له همدې امله د ۱۳۵۲ل. کال د سرطان د ۲۶مې کودتا د تاریخي روایتونو نقد او تحلیل، یوازې د تېر تاریخ مطالعه نه ده، بلکې د معاصر افغانستان د سیاسي تحولاتو د بنسټیز تحلیل یوه مهم وسیله ده.

**د څېړنې موخې**
۱ــ د دې څېړنې موخه په افغانستان کې د سرطان د ۲۶مې کودتا د بهرنیو لاملونو روښانه کول.
۲ــ د سیمې او نړۍ د رقابتونو رول په کودتا کې بیانول.
۳ــ د شوروي هېواد لاس درلودل او یا هم نه درلودلو دلایلو وړاندې کول.
**د څېړنې مبرمیت:** د دې موضوع مبرمیت په دې کې دی چې په دې څېړنه کې د محمد داود خان په مشرۍ د سرطان د ۲۶مې کودتا بهرني لاملونه بیان شوي دي.
**د څېړنې میتود:** په دې څېړنه کې له کیفي میتود څخه استفاده شوې ده.
**د څېړنې پوښتنې**
۱. په سیمه او نړۍ کې رقابتونو په کودتا باندې څه اغېز درلود؟.
۲. ایا د ناپېیلتوب غورځنګ د کودتا په رامنځ ته کېدو کې رول درلود؟
۳ــ ایا شوروي اتحاد د سرطان په کودتا کې لاس درلود؟
**پخوانیو آثارو ته کتنه**
په افغانستان کې د سرطان د کودتا د څېړونکو او لیکوالانو لپاره یوه مهمه او اساسي موضوع ده. له همدې امله د افغانستان د معاصر تاریخ هر لیکوال او مؤرخ په خپلو لیکنو کې یادې کودتا ته اشاره کړې ده او څه ناڅه یې یاده کودتا څېړلې ده. خو تر اوسه ما د ۱۳۵۲ل. کال د سرطان د ۲۶مې د کودتا د بهرنیو لاملونو په اړه د تاریخي روایاتو د څېړلو تر سرلیک لاندې کوم اثر نه دی لیدلی چې په کلي ډول یې دا موضوع څېړلې وي. د دې تر څنګ باید یادونه وکړم چې نورو لیکوالانو د نورو لیکنو تر څنګ د سرطان کودتا یادونه کړې او یاده موضوع یې د خپلې ډلې او ګوند په ګټه لیکنې تر سره کړې دي او د یادې کودتا د بهرنیو لاملونو بحث یې په خپلو لیکنو کې نقل کړې ده، خو په یادو لیکنو کې ګڼ شمېر ستونزې موجودې دي، د بېلګې په توګه د نظر یووالي نشتون، سمتي او سیاسي پلوي او دې ته ورته نور مسائل یې د لیکنې پر مهال په نظر کې نیولي دي. په دې څېړنه کې تر ډېره هڅه شوې ده چې په بې پرې توګه د سرطان د کودتا د بهرنیو لاملونو په باب یوه جامع لیکنه تر سره شي او په دې برخه کې یو علمي اثر لاسته راشي.

**ب - د سیمې او نړۍ د حالاتو بدلون او نړیوال رقابتونه**

د محمد ظاهر شاه په مشرۍ د شاهي رژیم پر مهال د افغانستان په کورنیو چارو کې د ګاونډیو هېوادونو په تېره بیا د ایران او پاکستان لاس وهنې د دې سبب شوې چې په هېواد کې د خلکو په ټولنیز ژوند باندې ناوړه اغېز وکړي، ګاونډیو هېوادونو د هېواد په کورنیو چارو کې د لاس وهنو له امله دا تمه درلوده تر څو په افغان شاهي دولت فشار راوړي چې له هغوی سره د هېواد په پولو کې هوکړې تر سره کړې او د هغوی فرمایشات ومني، د هغو له جملې څخه پاکستان هېواد هڅه کوله چې پر افغان دولت د ډیورنډ کرغېړنه کرښه په رسمیت وپېژني او په بل لوري کې د ایران دولت په دې لټه کې و چې د هلمند د سیند د اوبو مسئله په داسې ډول پای ته ورسوي چې د نوموړي هېواد په ګټه وي. د دې ترڅنګ ګاونډیو هېوادونو یاد پلانونو د انګریزي ښکیلاګګرو له شومو موخو او تګلارو سره مساوي و، په دې برخه کې ښه مثال په اتلسمه پېړۍ کې د فارس په واسطه د سیستان نیول یادولی شو. دغه راز د محمد ظاهر شاه په مشرۍ د ولسواکۍ په لسیزه کې د یادې دورې وروستي صدراعظم محمد موسی شفیق د صدرات پر مهال وکولای شول چې تر ډېره پورې په هېواد کې د ښکیلاک ګرو لاسونه لنډ کړي او هغه پلمې چې دوی د افغانستان د اشغال لپاره تر کار لاندې درلودې شنډې کړي (خواتي، ۱۳۸۹، ۱۰ـــ۱۱مخونه). له بلې خوا د سرطان کودتا داسې مهال پېښه شوه چې په سیمه او نړۍ کې یو شمېر بدلونونه رامنځ ته شوي و، د بېلګې په توګه د پښتونستان مسئله او په یاده خاوره کې د خان عبدالغفار خان هلو ځلو پر محمد داود خان زیات اغیز وکړ او محمد داود خان یې یو ځل بیا د سیاست میدان ته را ویښ کړ. د دې تر څنګ په ډهلي د ۱۹۴۹م. کال او په یوګوسلوایا کې د ۱۹۶۱م. کلونو د غونډو جوړېدل چې په لومړۍ غونډه کې د افغانستان په استازیتوب د محمدداود خان ورور محمد نعیم خان او په دویمه غونډه کې خپله محمد داود خان ګډون کړی و او په یادو غونډو کې ۱۵ هېوادونو برخه اخیستې وه او یاد هېوادونه په ناپېیلتوب سیاست د پر مخ وړلو لپاره سره راټول شوي و. یادو غونډو د محمد داود خان په سیاسي شعور زیاته اغېزه وکړه او نوموړی یې د کودتا لپاره وهڅاوه. له بلې خوا په ۱۹۵۲م. کال په مصر هېواد کې پاچا ملک فاروق له واک نه ګوښه او پر ځای یې جمال ناصر واک تر لاسه کړ چې یادې پېښې د نړۍ په حالاتو ژور اغېز له ځان سره درلود. همدرنګه په عراق هېواد کې په ۱۹۵۸م. کال د جنرال قاسم لخوا کودتا وشوه چې له امله یې پاچا فیصل له واک څخه ګوښه

او پر ځای یې جنرال قاسم واک ته ورسېده. پورته لاملونه د دې سبب شوه چې محمدداود خان یې هم په هېواد کې د کودتا لپاره وهڅاوه او په پای کې په ۱۳۵۲ل. کال د سرطان په ۲۶مه نېټه کودتا رامنځ ته شوه (سنگروال،۱۳۹٦، ۴۳۴مخ). همدرانگه د پښتونستان مسئله هم د سرطان د کودتا د پېښېدو له لاملونو څخه شمېرل کېږي، ځکه محمد داود خان په افغانستان کې شاهي رژیم پړ باله چې د پاکستان د کورنیو ناخوالو او د بنگله دیش د جلاکېدو له موقع نه یې استفاده ونه کړه او د پښتونستان موضوع یې هماغسې لانجمنه پرېښوده. لیکوال زیاتوي چې په ۱۹۷۱م. کال پاکستان د کورنیو ناخوالو له امله سخت زیانمن شوی و او د افغانستان شاهي رژیم کولای شول چې له یادې موقع نه په استفادې سره د پښتونستان خاوره له یاد هېواد نه جلا او په افغانستان پورې تړلې وای. له همدې امله وو چې محمد داود خان د یادې ستونزې د حل لپاره هڅه کوله تر څو د هېواد چارې په لاس کې واخلي (جلالي، ۱۴۰۱، ۳۸۴مخ).

**د ـ د ناپېیلتوب غورځنگ رامنځ ته کېدل:** د ناپېیلتوب غورځنګ بنسټ په ۱۹۶۱م. کال کې کېښودل شو او دا یو مهم سیاسي او نړیوال حرکت و چې د سړې جګړې پر مهال رامنځ ته شو او هغه هېوادونه چې نه یې غوښتل تر څو د امریکا او شوروي اتحاد هېوادونو تر نفوذ لاندې راشي او خپله خپلواکي او خپلواک دریځ وساتي له همدې امله یې د یاد غوځنگ سره یوځای شول. هېره د نه وي چې د دې غورځنګ فکري بنسټ تر دې وړاندې په ۱۹۵۵م.کال کې د اندونیزیا په باندونگ کنفرنس کې کېښودل شوی و. یاد غورځنګ په ۱۹۶۱م. کال ۲۵ غړي هېوادونه درلود او د دې غورځنګ لومړنی غونډه په ۱۹۶۱م. کال د یوګوسلاویا په پلازمینه بېلگراد کې رامنځ ته شوه چې په یاده غونډه کې افغانستان د یاد غورځنګ غړیتوب نه درلود، خو بیا هم محمدنعیم خان چې هغه مهال د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر و، د افغانستان په استازیتوب گډون کړی و (کاظم، ۲۰۱۵، دویه برخه) . یاد غورځنګ رامنځ ته کېدل د محمد داود خان پر سیاسي مفکورې ژوره اغېز درلود، ځکه محمد داود خان د ځوانی له مهال نه غوښتل چې افغانستان باید په بهرنی پالیسی کې ناپېیلی وي او د نړی د دوه لویو قدرتونو شوروي او امریکا ترمنځ موازنه وساتي، له همدې امله محمد داود خان د خپل صدارت پر مهال هڅه کوله چې په بېلابېلو برخو کې له ناپېیلو هېوادونو سره دوه اړخیزې اړیکې او تړونونه لاسلیک کړي. د دې تر څنگ په ۱۹۶۵ل. کال افغانستان د ناپېیلو هېوادونو په عمومي غونډه کې خپل ناپېیلتوب سیاست نړیوالو ته وښوده او له یادې نېټې وروسته افغانستان د ناپېیلو

هېوادونو او ناپیلتوب غوځنگ غړی شو. دغه راز موږ ویلای شو چې محمد داود خان د یاد غورځنگ د بنسټ اېښودونکو له جملې څخه شمېرل کېږي او د یاد غورځنگ رامنځ ته کېدل د دې سبب شو چې محمد داود خان یې د هېواد سیاسي چارو ته یو ځل بیا را وگرځوه (سعید، ب،ت، ۱۳۱مخ) .له بلې خوا محمد داود خان غوښتل چې افغانستان د سیاسي کشمکشونو څخه خلاص کړي، تر څو وکولای شي چې د شرق او غرب تر منځ موازنه وساتي او د امریکا او شوروي هېوادونو مرستو ته زمینه برابره کړي او د یادو دوه هېوادونو ترمنځ د سیاسي لوبو څخه افغانستان خوندي کړي تر څو افغانستان وکولای شي چې د امریکا او شوریانو له مرستو نه په ښه ډول استفاده وکړي او دې کړنې څخه موخه دا وه چې د شورویانو نفوذ په افغانستان کې کمزوری کړي، خو شورویانو د کیڼ اړخو په واسطه د افغانستان کنترول په لاس کې اخیستی و او دې کار ته یې اجازه نه ورکوله. له همدې امله محمد داود خان په هېواد کې نظامي کودتا تر سره کړه او شاهي رژیم یې سقوط کړ. نوی جمهوري نظام واک ته له رسېدو وروسته هڅه کوله چې افغانستان د ناپیلو هېوادونو په کتار کې راولي او افغانستان د شوروي له استعمار څخه خوندي کړي، خو محمد داود خان ونشوای کولای چې په دې پلان کې بریالی شي، ځکه چې په افغانستان کې د کیڼ اړخو او ښي اړخو سیاسي جریانونو په واسطه گڼ شمېر ستونزې را ولاړې شوې وې او محمد داود خان ته یې د دې موقع ورنکړه ترڅو وکولای شي چې خپل پلان پلي کړي (دیاني، ۱۳۷۸، ۱۶۷ــ ۱۶۸مخونه) .

ج - **د شوروي اتحاد استعماري موخې:** روسان د لوی پتر له وخت نه په دې فکر کې وو تر څو یوه لویه امپراطوري د فارس خلیج او گرمو اوبو ته دتر رسېدولو پورې جوړه کړي، له همدې امله دوی خپل دغه شوم پلان د ترکستان په اشغال سره پیل او په قرار یې مخته وړه. دغه راز لینن او ستالین دوه انسان وژونکې څېرې واک ته په راتگ سره د لوی پتر نقشې ته د عمل جامه ورکړه او د بخارا په نیولو سره یې د افغانستان د نیولو هوډ وکړ. روسانو د ولسواکۍ په لسیزه کې د دیموکراسۍ له شعار او د مطبوعاتو او معارف په برخه کې د اصلاحاتو نه په استفادې سره خپل شوم پلان مخکې کړ او افغانستان ته یې په بېلابېلو برخو کې د درنو پورونو ورکړه پیل کړه. د ولسواکۍ په لسیزه کې هر صدراعظم چې هڅه کوله تر څو د روس له ولکې ځان خلاص کړي ډېر ژر گوښه کېده او په دې سره روسانو په افغانستان کې د آسیا د امنیت تړون تر لاس

لاندې ونیوه او له دې کار څخه یې موخه دا وه چې افغانستان په مسکو پورې وتړي، خو په مقابل کې افغان دولت یاد تړون د افغانستان په ګټه نه لیده او په لومړي سر کې یاد تړون د چین خلاف و او د یاد تړون لاسلیک د افغانستان د بې طرفۍ سیاست له ګواښ سره مخ کاوه. له همدې امله افغان شاهي دولت د یاد تړون له لاسلیک نه انکار وکړ. روسانو د یاد پلان له ناکامیدو وروسته د هلمند د اوبو او پښتونستان مسئله رامخ ته کړه او غوښتل یې چې د یادې موضوع په واسطه افغان شاهي دولت ځان ته محتاج کړي، خو یادې دوه ستونزې د محمد موسی شفیق د ښه مدیریت له امله حل او د روسانو یاد پلان هم له ناکامۍ سره مخ شو. کله چې د روسانو یاد دوه پلانونه په افغانستان کې له ماتې سره مخ شول، نو روسانو خپل استعماري سیاست په خطر کې ولید او په دې پوه شول چې افغانستان د خپلواک سیاست په واسطه کارونه مخ ته وړي، نو له همدې امله یې په افغانستان کې د کودتا پلان تر کار لاندې ونیوه، له دې کار څخه یې موخه دا وه چې روسانو نه غوښتل په افغانستان باندې یرغل وکړي، له همدې امله یې په دې هېواد کې د روس پلوه نظام په منځ ته راتلو باندې ټینګار درلود. دغه راز د دې پلان د بریالي کولو لپاره د خپل پخواني ملګري محمد داود خان سره په اړیکه کې شول تر څو د نوموړي پر مټ یاد پلان بریالی کړي. دا مهال یو شمېر افغان پوځي افسران چې د نظامي زده کړو لپاره شوروي ته استول شوي وو، بیرته هېواد ته راستانه شول او یو شمېر نور پخواني افسرانو چې په شوروي کې یې زده کړې کړې وې، د روسانو په واسطه محمد داود خان ته ور وپېژندل شول (حق شناس، ۱۳۶۸،۱۷۸ــ۳۸۰مخونه) . همدرانګه شورویانو د افغانستان حالاتو ته په کتو هڅه کوله چې د غرب او انګلیس پر ضد په دې خاوره کې خپل کنټرول راولي، له بلې خوا افغانستان د انګلیس او امریکا سره که څه هم چې په ځینو برخو کې اړیکې درلودې خو شورویان له هغوی نه مخکښ وو او هڅه یې کوله چې د غرب د پالیسیو پر ضد په افغانستان کې خپل پلانونه عملي کړي او دا خاوره تر خپل کنټرول لاندې راولي چې په دې لاره کې شورویانو محمد داود خان د یو غوره شخص په توګه ټاکلی و (محب، ۱۳۷۴، ۱۲۱ــ۱۲۵مخونه). له بلې خوا په افغانستان کې د سرطان د کودتا له عمده لاملونو څخه یو هم

په افغانستان او سیمه کې د شوروي هېواد نفوذ و چې غوښتل یې د هند ګرمو اوبو ته ځان ورسوي. په سیمه او نړۍ کې نړیوال رقابتونه په ځانګړې توګه د شوروي او غرب لخوا سیالۍ، تر څو د هند ګرمو اوبو ته ځانونه ورسوي د دې سبب شوه چې افغانستان د یادو سیالیو ښکار وګرځي او په هېواد کې مو د بدلون سبب شوه او د محمد داود خان په مشرۍ د سرطان کودتا رامنځ ته شوه (طنین، ۱۳۸۴، ۱۷۱مخ). همدارنګه کوم وخت چې محمد داود خان د صدارت له مقام څخه استعفا وکړه او وروسته د ولسواکۍ د دورې اساسي قانون تصویب شو او د یاد قانون په ۲۴مه ماده کې د شاهي کورنۍ غړي له سیاست څخه منع شوي و، محمد داود خان باندې یاد قانون ژور اغیز درلود، د یاد قانون له تصویب وروسته محمد داود خان نه غوښتل چې د سیاست له ډګر څخه لرې و اوسي له همدې امله یې د شوروي پلوه کیڼ اړخو سیاسي جریان سره لاس یو کړ او په هېواد کې د نظام په جوړښت کې یې بدلون راوست. دغه راز د شوروي او محمد داود تر منځ د اړیکو په اړه لیکوال زیاتوي چې شوروي هېواد د پښتونستان په مسئله کې د محمد داود خان سره مرسته کوله او په دې برخه کې یې غوښتل د محمد داودخان ملاتړ وکړي له همدې امله د محمد داود خان د غرب په پرتله شوروي ته لومړیتوب ورکاوه. د لیکوال په وینا همدا لامل و چې د شوروي پلوه کیڼ اړخو په واسطه د سرطان کودتا تر سره شوه، محمد داود خان په دې کودتا کې د شورویانو د لاس آله وګرځېد، وروسته شورویانو د افغانستان ټول واک په لاس کې واخیست (کشککي،۱۳۸۸: ۱۸ــ۱۹مخونه). که څه هم چې د پورته لیکوالانو د لیکنو پر بنسټ داسې څرګندېږي چې د سرطان د ۲٦مې نېټې کودتا تر سره کېدل د شوروي اتحاد د استعماري موخو پایله وه، خو یو شمېر نور لیکوالان بیا دا موضوع په کلکه ردوي او لیکي چې د سرطان کودتا د محمد داود خان په زیار او هڅو بریالیتوب ته ورسېده او په یاد سیاسي بدلون کې شوروي هېواد هېڅ ډول رول نه درلود. په دې اړه د شوروي هېواد د کمونیست ګوند پورې اړوند د نړیوالو اړیکو کارپوه او د بهرنیو چارو وزارت اړوند د نړیوالو اړیکو د انستیتوت استاد ولادیمیرباسوف وایي چې په افغانستان کې د شاهي رژیم سقوط د محمد داود خان له لاسته راوړنو څخه و. دغه راز نوموړی زیاتوي چې شوروي اتحاد

په هېڅ ډول د افغانستان د شاهي رژیم په سقوط کې دخیل نه و. هغه وړاندې زیاتوي چې که څه هم چې موږ په افغانستان کې د یاد هېواد په سیاسي، اقتصادي او نورو برخو کې دخیل وو او پراخ نفوذ مو درلود خو په افغانستان کې دا ډول پېښې د یوې حاشیې په شکل پېښېږي او تر کوم ځای چې زه معلومات لرم د شاهي رژیم په سقوط کې محمد داود خان مهم او اساسي رول لوبولی او دا د هغه لاسته راوړنه ده. همدارنګه باسوف زیاتوي چې په یاده کودتا کې شوروي هېواد په غیر مستقیم ډول دخیل وو او هغه په دې ډول دی چې کومو افسرانو په کودتا کې برخه درلوده، په شوروي هېواد کې یې زده کړې بشپړې کړې وې او همدې افسرانو دا یوه طرحه تنظیم کړه چې له مخې یې محمد داود خان وتوانېد، تر څو شاهي رژیم نسکور کړي ( سنګروال، ۱۳۹٦، ۴۳٦ــ ۴۳۷مخونه). د پورته شواهدو ترڅنګ په جمهوریت ورځپانه کې د افغانستان لومړنی اتلس ورځې تر سرلیک لاندې په یو مطلب کې لیکلي دي چې په افغانستان کې د نوي جمهوري نظام له واک ته رسېدو وروسته د شوروي اتحاد په شمول ګڼ شمېر نورو هېوادونو په افغانستان کې نوی جمهوري نظام په رسمیت وپېژنده، شوروي اتحاد په افغانستان کې د سرطان کودتا تر سره کېدل یوه کورنۍ چاره وبلله او په یاده کودتا کې خپل لاس لرل رد کړل او نوی جمهوري نظام یې په رسمیت وپېژنده. د دې ترڅنګ هند، چکوسلواکیا او المان هغه هېوادونه وو چې نوی جمهوري نظام یې په رسمیت وپېژنده (جمهوریت ورځپانه، ۱۳۵۲، ۵مخ). محمد داود خان په خپل زیار او کوښښ د شاهي رژیم د پوځ د یو شمېر افسرانو په مرسته بغیر له کوم سیاسي جریان څخه په دې وتوانید چې په افغانستان کې شاهي رژیم نسکور کړي او د هېواد د رژیم ډول پر جمهوریت باندې واړوي. همدارنګه د افغانستان حالات د یو بدلون لپاره چمتو وو او افغان ولس هم هیله درلوده، تر څو په هېواد کې د سیاسي بدلون په واسطه د هغوي ژوند ته پام وشي. دغه راز په مطلب کې راغلي دي چې د محمد داود خان پلان داسې ترتیب شوی و چې نوموړي غوښتل تر څو پرته د کوم سیاسي ګوند یا بهرنۍ مداخلې د پوځ د ټیټ رتبه افسرانو پام ځان ته راواړوي او د هغوی په مرسته په افغانستان کې قدرت په لاس کې واخلي. دا چې ولې محمد داود خان د شاهي رژیم ټیټ رتبه افسرانو د خپل

پلان لپاره وټاکل او په لوړه کچه افسرانو ته یې په کودتا کې برخه ورنکړه، د شاهي رژیم لوړ رتبه چارواکي په هېواد کې د روانو حالاتو څخه خبر ول، د همدې لپاره هغوي په لوړه کچه د پوځ او امنيتي ادارو افسرانو تر څار لاندې نیولي و، له همدې امله محمد داود خان په ډېره چټکۍ او د یو پټ پلان په واسطه د پوځ له ټیټ رتبه افسرانو سره د کودتا د تر سره کولو لپاره چمتو والی ونیو (دریځ، ۲۰۰۷، ۵۳۷ــ ۵۳۹مخونه)

**مناقشه**

د دې څېړنې ځانګړتیا په دې کې ده چې د افغانستان د معاصر تاریخ دغه ارزښتناکه موضوع د افغانستان په ملي ژبه باندې د بېلابېلو منابعو او بېلابېلو ژبو له تاریخي روایاتو نه په استفادې سره تر سره شوې او د سرطان کودتا په اړه پکې د امکان تر حده ټول تاریخي روایات هغه که په هر ژبه وو څېړلي دي. د دې تر څنګ په دې علمي څېړنه کې د ټولو لومړی لاس منابعو څخه تر ټولو لیکوالانو او تاریخ لیکونکو هغه که د هر ګوند د غړو په واسطه او یا هم د هرې ډلې په پلوی لیکل شوي تر ارزونې او شننې لاندې نیول شوی او اصلي موضوع ترې را بهر شوې ده. د پورتنۍ له مخې ویلی شو چې دغه موضوع د معاصر تاریخ له مهمو او بحث انګیزو پېښو څخه ده چې د مختلفو تاریخي روایتونو او فکري لیدلورو ترمنځ یې پراخه مناقشه رامنځ ته کړې ده. د دې پېښې د ارزونې پر مهال څرګندېږي چې د کودتا ماهیت، عوامل او پایلې د وخت د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو نړیوالو شرایطو له اغېزو څخه نه شي جلاکېدلی. دغه راز باید یادونه وکړو چې د یادې کودتا په اړه لومړی لیدلوری دا دی چې یاده پېښه د محمد داود خان د اصلاح غوښتنې او د عصري دولت جوړونې د هڅو نتیجه وه. ددې لیدلوري له مخې سلطنتي رژیم په افغانستان کې د اوږدې بې ثباتۍ، اداري فساد او ټولنیز رکود له امله اصلاحاتو ته اړتیا درلوده او محمد داود خان د یادو ستونزو د له منځه وړلو لپاره په کودتا لاس پورې کړ، تر څو په هېواد کې د بدلونونو، اداري مؤثرریت او ملي خپلواکي بنسټونه ټینګ شي، له همدې امله د هېواد خلکو له محمد داود خان سره د ملي احساس او ټولنیز عدالت د راوستو لپاره د نوي جمهوري نظام څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.

**پایله**

په پایله کې موږ وېلای شو چې په افغانستان کې د سرطان کودتا رامنځ ته کېدل یو شمېر بهرني عوامل له ځان سره دلودل چې له امله یې یاد سیاسي بدلون ته زمینه مساعده شوه او محمد داود خان په دې وتوانېده تر څو د خپلو سره یو ځای په هېواد کې شاهي رژیم ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره جمهوري نظام اعلان کړي. دا چې افغانستان د آسیا د لویې وچې یو له مهمو او ستراتیژیکو هېوادونو له جملې څخه دی له همدې امله په دې هېواد کې د سیاسي بدلونونو تر شا یو شمېر بهرني لاملونه شتون لري. له همدې امله موږ ویلای شو چې محمد داود خان په مشرۍ د سرطان کودتا هم د بهرنیو کړیو په واسطه چې په راس کې سې شوروي هېواد موجود و، رامنځ ته شو. له څرنګه چې پورته مو یادونه وکړه چې د سرطان په کودتا کې د شوروي هېواد د لاس لرلو او یا هم نه لرلو په باب ګڼ شمېر تاریخي روایتونه موجود ول او په دې برخه کې لیکوالان او څېړونکي بېلابېل نظر لري او ډول ډول تاریخي روایات یې د یادې موضوع په باب وړاندې کړي. له همدې امله موږ ویلای شو چې د محمد داود خان په شمرۍ د سرطان کودتا که څه هم چې یوه افغاني کودتا وه او د یو شمېر افغانانو له خوا چې له شاهي رژیم سره یې د بېلابېلو موضوعاتو پر بنسټ ښې اړیکې نه درلودې تر سره شوه، خو دا خبره هم باید هېره نه کړو چې په دې کودتا کې د شوروي په ګډون یو شمېر بهرنۍ استخباراتي کړۍ دخیل وې او د هغوی په مرسته یاده کودتا بریالیتوب ته ورسېده.

**وړاندیزونه**

۱. د افغانستان علمي بنسټونو ته مې وړاندیز دی چې د ۱۳۵۲ل. کال د سرطان د ۲۶مې نېټې د کودتا په څېر د افغانستان د تاریخ د مهمو پېښو په باب علمي پروژې او کنفرانسونه واخلي تر څو زموږ د هېواد یادې پېښې په ښه ډول بیان او د منځ ته راتلو لاملونه یې څرګند شي تر څو په راتلونکي کې د داسې تاریخي پېښو مخه ونیول شي.

۲. د افغانستان خلکو ته مې وړاندیز دی چې د هېواد تېر تاریخ ته په کتو د پردیو د شومو پلانونو څخه ځان وساتي او د خپل هېواد د ملي یووالي د ساتلو او د هېواد د سوکالۍ لپاره په ګډه مبارزه وکړي تر څو موږ وکولای شو په هېواد کې د پردیو دسیسې شنډې کړو.

**اخځلیکونه**


جلالي، علی احمد. (۱۴۰۱)، د افغانستان نظامي تاریخ، ژباړه«شیرمحمدکریمی»، سروش کتابپلورنځی: کابل.

حق شناس، ش، ن. دسایس و جنایات روس در افغانستان از امیر دوست محمدخان تا ببرک، چاپ دوم، ـــ: پاکستان، ۱۳٦۸ل.

خواتي، محمدآصف.(۱۳۸۹)، افغانستان، تر سلطنت وروسته، دانش خپرندویه ټولنه: کابل.

دریځ، امین الله.(۱۳۷۹)، افغانستان در قرن بیستم، انجمن نشراتی دانش: شهر پشاور.

دیاني وطنپال محمدګل. «شلمه پېړۍ او د افغانستان سیاسي بدلونونه»، د افغانستان په شلمه پېړۍ کې د مقالو ټولګه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه: جرمني.

سنګروال، شهسوار.(۱۳۹٦)، افغانستان د معاصر تاریخ په رڼا کې، لومړی چاپ، نوی مستقبل خپرندویه ټولنه: کابل.

سعید، خان آقا.(ــ)، از جاسوسی تا وزارت، مرکز نشراتی فضل: ــ.

طنین، ظاهر.(۱۳۸۴)، افغانستان در قرن بیستم، چاپ دوم، محمدابراهیم شریعتی افغانستانی: تهران.

کاظم، سیدعبدالله(۲۰۱۵)، «محمد داود خان یکی از بنیان گذاران «جنبش عدم انسلاک»، https//afghandrsakazem.com. تاریخ مراجعه[۱۴۰۴/۱۰/۴]

کاکړ، محمد حسن.(۱۳۸۸)، د سرطان کودتا او د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه: جرمني.

کشککی، صباح الدین. ۱۳۸۴، دههء قانون اساسی، چاپ چهارم، بنگاه انتشارات میوند: کابل.

مجددی، عبدالحق. مجددی، داکترفضل الله.(۱۳۸۷)، حقیقة التواریخ از امیر کبیر تا رهبر کبیر، بنگاه انتشارات میوند: کابل،

محب، عبدالکریم.(۱۳۷۴)، تلاشهای روسها برای اشغال افغانستان،چاپ دوم.